# د ملي ولولو خاوند ، هیواد پال او
# اولس پال شاعر

## ښاغلی عبدالوهاب سرتیر



عبدالوهاب سرتیر

# بڼ

بڼ کې هم ونې شته هم بوټي هم ګلونه اشنا
هم پکې ناځي فواری او هم رنګونه اشنا
سترګې له زړه سره دمينې په رشته وتړه
بيا نو د بڼ مزې اخله خوندونه اشنا



### د ملي ولولو خاوند ، هيواد پال او اولس پال شاعر ښاغلی عبدالوهاب سرتير

د افغانستان په معاصره شاعرۍ کې زمور تکړه او خوږژبې شاعر ښاغلی عبدالوهاب سرتير هغه ملي، ټولنيز او ادبي ستړه ده چې د ده د نوم سره زموږ د ادب او فرهنګ مينه وال آشنا دي.

ښاغلی عبدالوهاب سرتيرد حاجي صاحب عبدالغني زوی دی چې پر (۱۳۲۸) لمريزکال د ننګرهار ولايت د سره رود په موسی زيو کلي کې زيږيدلی دی. ده خپلې زده کړې د سيد جمال الدين د ښوونې او روځنې په موسسه کې سرته رسولې دي. تر ( ۱۳۵۸ ) لمريز کال پورې د حبيبيې او استقلال په ليسو کې د پښتو ژبې او ادبياتو د ښوونکي دنده لرله، او وروسته يې په راديوتلوېزون کې پر کار پيل وکړ. ده په راديوتلويزون کې د شاعرۍ تر څنګ د خپل کار په موده کې په سلګونو ليکنې ، ګذارشونه، مرکې او ديالوګونه ليکلې دي. سرتير صاحب همداسې يو شميرښکلې او په زړه پورې راديويي خپرونې هم جوړې کړې دي. دی په راديو تلويزون کې د بلابيلو خپرونو ليکونکې، ويونکې، او چلوونکې و. سرتير صاحب لکه زموږ نور هيواد وال د جهادي ډلو ټپلو د خپل منځي جګړو له کبله د جرمني هيواد ته کډوال شو، او له (۱۹۹۳) زيږديز کال راهيسې په جرمني کې د پرديسې ژوند تيروي.

له (۱۳۴۳) لمريز کال راهيسې د ده شعرونه د هيواد په مطبوعاتو کې خپره شوي او خپريږي او ده خپل قلم په دې لاره کې اوچت ساتلی دی.

ما د سرتر صاحب يو شمير شعرونه د انځوريز په شکل ترتيب کړې دي، ستاسو د ادب مينه والو پام ورته را اړوم.

په درنښت او ادبي مينه: انجنير عبدالقادر مسعود



## د مينې تار؟

چې احساس نه وي له چا سره د مينې
تړاو شليږي له دنيا سره د مينې
قيس چې خلک يې مجنون بولي مين وو
تار تړلي وو ليلا سره د مينې
په هوا چې د ښايست غړيږي سترګې
رابطه ده له ښکلا سره دمينې
تا روزلی او ټينګ کړې دی احساسه
کوم پيوند چې دی له ما سره دمينې
محل پريږدئ چې روښانه وي په شمعو
پتنګ ژوند کړي له رڼا سره دمينې
زه (سرتير) نن له هجرانه په عذاب يم
ژوند چې غواړم له سبا سره دمينې



شاعر : عبدالوهاب سرتير

ترتيب کوونکی : انجنير عبدالقادر مسعود

## د سبا باده چليږه !

د سبا باده چليږه چې بهار درسره راشي
خوشبوئي د يار د څنو په وار وار درسره راشي
د سبا باده چليږه که نرګس کوله کړه
چې ګلاب د ننګرهار مې پدې لار در سره راشي
د سبا باده چليږه ويشه زيرى د سپرليو
که وږمې د سرو غاټولو لاله زار در سره راشي
د سبا باده چليږه ما له يار سره يو ځاى کړه
چې د پاى ټکى د سترږي انتظار در سره راشي
د سبا باده چليږه چې د لمر وړانګې تازه شي
چې له سره خمار ووځي او ديدار در سره راشي
د سبا باده چليږه چې ښکلا لمن ښکاره کړي
د هنر د شاهکارونو لوى شهکار درسره راشي
د سبا باده چليږه چې د مړو وچ رګونه
د رباب په شانې سُرشي، په ګفتار درسره راشي
د سبا باده چليږه چې (سرتير) هجر ځپلې
ګوندې وي چې لاس نيولې زما يار در سره راشي



شاعر : عبدالوهاب سرتير

ترتيب کوونکی : انجنير عبدالقادر مسعود

# ژړا

تېر په دې خاوره څه ناورين دی چې ننگونه ژاړي
لويدلې خاورو کې شملی دي چې دا غرونه ژاړي
اوبه اوبه شولو غيرت، فرياد له گېره ووت
چې راغلی وريځې خونړۍ او تندرونه ژاړي
قيامت قيامت به ملا وې، نن مې په سترگو وليد
له اوبو لاندې اور بلېږي، دريابونه ژاړي
غرونه اوبه شول د غونډيو په حساب وړوکي
چې د بابا د کړو تورو نښانونه ژاړي
چې په چمن وشي باران د مارکونډيو د چا
هم به سپرلی وي په ژړا هم به گلونه ژاړي
په سترگو ړوند شولو ساقي، پيالې په وير کيناستی
چې د (سرتير) خمار ته گوري ټول څمونه ژاړي



شاعر : عبدالوهاب سرتير

ترتيب کوونکی : انجنير عبدالقادرمسعود

# ژوندي آرمانونه

تنها نه يم له داغونو سره اوسم
ستا د مينې له يادونو سره اوسم
گومان مه کوه چې مړ دې کړمه مرگه
له ژونديو ارمانونو سره اوسم
په دې شپه کې چې وختونو لورولې
له روښانو مشالونو سره اوسم
زولنو مې اراده نه کړه بدله
د آزاد ژوند له فکرونو سره اوسم
هر خزان کې زه مين يم پاتې شوی
سرتير تل له بهارونو سره اوسم



شاعر : عبدالوهاب سرتير

ترتيب کوونکی: انجنيرعبدالقادرمسعود

## لیونی احساس

یو زړه لرم مین چې ما په غرونو ګرځوي
مجنون یمه خو ډیر مې په ګلونو ګرځوي
له کوره په صحرا باندې خوشحاله یمه چې ګرځم
ملنګ مې چې دا نن په بیابانونو ګرځوي
هروخت چې وخت پیدا کړم په سفر وځم له کوره
احساس مې لیونې په دریابونو ګرځوي
که لږ مې هم له چا سره په مینه دي خندلي
یادونه به مې ټول عمر په زړونو ګرځوي
مننه لویه خدایه: یو څوک شته چې نازوي مې
ساقي چې راسره خوا کې جامونه ګرځوي
زاری د حاسدانو له حسده په چاودو دي
یونیم چې له (سرتیره) دا مخونه ګرځوي



شاعر : عبدالوهاب سرتیر

ترتیب کوونکی : انجنیر عبدالقادر مسعود

## ژړا ... ؟ !

مبتلا دې په هجران یمه چې ژاړم
بیچاره شو مه حیران یمه چې ژاړم
چې به کله سره ګورو د زړه سره
پدې هیله او ارمان یمه چې ژاړم
آخر زړه لرم مین ډبره نده
بل څوک نه یمه انسان یمه چې ژاړم
بې وطنه مهاجر یمه آلمان کې
دردیدلی یو افغان یمه چې ژاړم
دا څه وینې دي روانې په هر ګوټکې
یو وګړی د جهان یمه چې ژاړم
ولې؟ ځای د مینې کرکې دی نیولې
ډوب همدې سوچ کې روان یمه چې ژاړم
په واټونو کې پرتې دي زما غوښې
پدې بیه ډیر ارزان یمه چې ژاړم
پسرلی دی هر څه رنګ اخلي غوړیږي
زه (سرتیر) پکې خزان یمه چې ژاړم



شاعر : عبدالوهاب سرتیر

ترتیب کوونکی : انجنیر عبدالقادر مسعود

# امان

خلک له اوره امان غواړي زه په اور پسې ځم
چې ستا د سرو شونډو سکروټو په ټکور پسې ځم
له ځانه پس زور او قوت ورکړی ښکلو ته خدای
زه چې دا مینه مینه وایم په دې زور پسې ځم
ځیرې ګریوان چې دا له سپینو جامو لرې ګرځم
هغو تور کړې یم په مینه چې په تور پسې ځم
تشه له مینې جهنم ده مانۍ نه غواړمه
توره کیږدۍ کې چې وي مینه هغه کور پسې ځم
چې مُجسم پکې جهان وي له ستمه فارغ
د حقیقي ژوند د هنر ښکلي انځور پسې ځم
که ما (سرتیر) ته چا زما د ورکې پته راکړه
له پولو اوړم دا وعده ده په هر لور پسې ځم

شاعر : عبدالوهاب سرتیر



ترتیب کوونکی : انجنیر عبدالقادرمسعود

## ساقي !

بیماري مې لولپه کړه، په خمار مې پورې اور کړه
نور مې مه پریږده په تمه، په اسرار مې پورې اور کړه
که خبره وکړم سپینه، ساقي مینه غواړم مینه
مینه ناکه راته ګوره، په اغیار مې پورې اور کړه
راته ناست رقیب کمین کې، مالاهو کړه سم په سین کې
مدعا مې کړه تر سره، په ټینګار مې پورې اور کړه
د ساړه ژمي ماښام دی، تش زما دمیو جام دی
دغه تشه مې کړه ډکه، په قرار مې پورې اور کړه
ما له ځانه سره مست کړه، د هستۍ غړکې مې هست کړه
لیونتوب را مبارک کړه، په هر کار مې پورې اور کړه
زه (سرتیر) له ژونده ستړی، ګورم ځان لکه یو مړی
ما له قبره را بهر کړه، په مزار مې پورې اور کړه



شاعر : عبدالوهاب سرتیر
ترتیب کوونکی : انجنیر عبدالقادرمسعود

## ساقي

ساقي تږی یم کوه راباندې پام نن
له کرمه دې چې وکړمه آرام نن
سره شپه ده سره شراب راته تاوده کړه
په تودو شرابو غواړمه حمام نن

****

## اور؟!

اور دې له لمنې په لمنو لګیدلې نن
سرې لمبې پرې بلې دې غلیم چې ما لیدلی نن
وګوره ښامار چې د عظمت کیسه یې مفته شوه
داسې پرزیدلی دی چې نشي پاڅیدلی نن



شاعر: عبدالوهاب سرتیر
ترتیب کوونکی: انجنیر عبدالقادر مسعود

## سبا، سبا

د وفا په تمه زوړ شوم ما وفا و نه لیده
تګه برګه زمانه ده ما ربښتیا و نه لیده
غوړولې تورې شپې ده په دنیا خپله لمنه
چې رڼا مو دې تیارې کړي ما رڼا و نه لیده
په ژړا راغلو نړی ته په ژړا باروو کډې
زاره چاودې کوچ و بار کې ما خندا و نه لیده
لا تر منځه واټنونه د انسان او ازادۍ دي
چې ربښتیا دې څوک ازاد وي ما د چا و نه لیده
ډیر مې وغوښتل تل ملکونه پسې لاړم هرې خواته
جنون وویستم له پولو ما لیلا ونه لیده
د راتلو څرک یې په ستورو او اسمان کې نه لګیږي
هر ورځ سبا سبا کړې ما سبا ونه لیده
چې دې زړه ورکړم له زړه نه زه سرتیر دې پرې مین شم
ما په ژوند کې داسې ښکلې دلربا ونه لیده



شاعر: عبدالوهاب سرتیر
ترتیب کوونکی: عبدالقادر مسعود